هدايت الله هدايت

د ۲۰۱۰ کال د فبروری لسمه

# د نړی د پیښو ترشا شارلاتاني لوبي ؟

ویکتور تورن Victor Thorn د امريکا نامتو ژورناليست او د زياتو کتابو او د هغه جملي څخه « د سپټامبر په يولسمه کي د اسرائيلو نقش» نومي د مشهوره کتاب ليکوال، د «امريکن فري پرس» د او ونيزي په يوې وروستۍ مقاله کي ليکلي اووايي چي آيا د امريکا بې درکه پورونه به بالاخره ددې هيواد ډالر کوته کي او که دا چي، د سرکوزي د انفلونزا اپيدمي به د امريکا د حفظ الصحي سيستم و تولي نړی ته ځان و غزوي؟

دغه ليکوال همدارنګه د ورستيو تروريستي حملو په اړه چي د امريکا په دننه کي دکورني عواملو لخوا تر سره سوې، وايي، چي د نړی نخبګانو تل د تاريخ په اوږدوکي د بحرانو څخه دخلکو د ېېرولو او په هغوی کي د وحشت د خپرولو لپاره کار اخيستی دئ ترڅو پدې توګه وکولای سي د خپلي خوښي قوانين تصويب او پر هغوی باندي هغه ومني.

په نوموړي ليکنه کي د "رام امانوئيل " ، هغه څوک چي د امريکا د جمهور رئيس بارک اوباما د زړو يارانو څخه دئ ديوې خبري يادونه کوي چي په کنايي سره و هغه ته وايي ؛ چي ګوره پاره « هيڅکله اجازه مه ورکوه يو جدي بحران مفت در څخه تير سي » ، هغه ليکي، د نوي نړی وال نظم را مينځته کوونکو او د هغوی حاميانو په قطعي توګه دغه شاني لحظي د ځان د پاره لوی غنيمت ګڼلي دي . داځکه چي هغوی ته بحرانونه، د عمل او د جګړو په مانا دي؛ او په هغه کي بېدرکه ګټي پرتي دي . اوس څه دا بحران که د يوې طبيعي حادثې د لاري را مينځته کيږي او که د يوې طرحه سوي اقتصادي ګډوډيو ، جګړو، ترور او د نورو عواملو دلاري ، او يا هم د هغه بې ثباتيو له کبله چي عمدتاً بحرانونه د کودتاګانو د لاسه زيږي.

دغه امريکايي ليکوال دغه خبره هم کوي چي هرکله « دغه شاني کنترول سوي هرج ومرجونه» رامينځته کيږي، نو پيښي او حوادث هم په سحر آميزه توګه د رسنيو لخوا نادرسته تر خلکو پوري رسيږي . همدارنګه هغه اضطراري وضعيت چي عملي بڼه نيسي د خلکو د ژوندانه تحرک په ټپه دروي، ځکه نو داسي يو حالت راسي چي خلک په آساني سره د دولت و هري پريکړي ته غاړه ايږدي او هغه مني.

پدې توګه کله چي ټوله پاملرنه اوتوجه د فاجعي و ظاهري تاوانو ته را کرځي او زموږ ټوله پام وهغه ته را اوړي، نو داهغه وخت دئ چي مخکي له دې نه چي پدې پوه سو څه پېښه سوېده، لا د وخته ددې حوادثو سازمان ورکوونکو خپل کارکړی او زموږ د شخصي ګټو څخه يې پرېمانه سوء استفاده کړي وي. دغه شاني پيښي د قدرت دخاوندانو د پاره داسي يو فرصت هم دئ چي لزوماً ويني هم پکښي تويدای سی او په دې وسيله هغوی خپل حريفان ورباندي له مينځه وړي.

دغه امريکايي ليکوال مثال راوړي او ليکي چي که تاسو د سپتمبر د يولسمي دهغي نابېره عظيم شوک خاطره په ذهن کي را وګرځوی، په هغه وخت کي د دولتو مشرانو د تولني نوي سياستونه د يو سره په يوه نوي حساب سوي شکل کي تر اجراء لاندي راوستل. ددې پيښي څخه چي کومي د تمثيل صحني جوړي سوې نو دهغه څخه بېدرکه ګټي هم ترلاسه سوې، هغه ليکي : کله چي پرموږ باندي نابېره «حمله» وسوه، متوجه سولو، هغه نړی چي موږ تردې دمخه د هغه په باره کي سوچ کاوه، ددې پسته موږ نورهلته ژوند نه کوو، داځکه چي دا ټوله داستان پر دابله خوا را واوښت. پدې مرحله کي هغه کسانو چي د واقعيتو د ځای پر ځای کېدو د پاره لاس په کار سوي وه، نو د ماکياولي شېوو پر سبک باندي، موږ ته د يوه خالي يا نا ليکل سوی تخته سنګ په سترګه وکتل سوه، چي کولای سي هرهغه نوی فکر او آيديا چي د هغوی په ذهن کي را ګرځي، هغه هلته زموږ د پاره حک کړي.

د سپټامبر د يولسمي نه باد (ددې نه ماسبوا چي دغه پيښه ساختګي وه که واقعي) د نوي قوانينو د تصويب د پاره يو نوی او کامل چوکاټ را مينځته سو. په حقيقت کي د قدرت خاوندانو تل د مصيبت او بلاوو څخه د يوه نوي دښمن و جوړېدو ته ضرورت لاره، او پدې کار کي يې د ځان د پاره د ګټو ډيري نوري سوري ليدلي. په همدې خاطر ده چي هغوی د خپلو خيالاتو او پلانو څخه د ملاتړ لپاره د خپلو رسنيو دلاري د شديدو تبليغاتي کارنامو څخه ګټه پورته کوله او خلکو ته يې په خپلوتبليغاتو کي ويل: «نوڅه، که تاسو وطنپاله ياستئ او خپلواکي هم درباندي ګرانه ده ، نو را ميدان ته سئ د خپل وطن دپاره او د استبدادي حکومتو پرضد زموږ د جګړی څخه دفاع وکړئ .»


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

البته مخالفین هم باید و ځپل سي او له مینځه ولاړ سي. له دې امله که تاسو هم لکه نور کسان چي د ځان اختیار خپل کښئ، او هرچا ته لاس پر نامه نه دربړئ ، نو هغه وخت ستاسو دغه مخالفت یا مخالفه عقیده، هغوی د وطنپالني یو ضد عمل بولي ، درست هماغسي لکه چي د سپتمبر د یولسمي د« حقیقت پلټونکو » ډلي وکړه.

ویکټور تورن لیکي؛ د امریکا سیاستونه تل پر داسي خوا روان دي چي باید د ځان دپاره دښمن جوړ کړي . مثلا د تیري پېړی په جریان کي امریکا تل د جګړې په حال کي وو او دښمن یې درلود؛ په لومړي سر کي د نازیانو څخه متنفره وو ، دهغه را وروسته نوبت کمونیستانو، کوریایانو او ویټنامیانو ته را ورسېد او نن یې هم دادئ د افراطي اسلامه څخه نفرت ، په اسلامي هیوادو پسي یې را اخیستي ده، حال داچي که رشتیا وویل سي نو همدغه افراطي اسلام خو مو ړ د شورویانو پرضد پر پښو ودراوه او ښه په درځ مو د هغه ملاتړ وکړ.

لکه څرنګه چي «د ټرور پر ضد جګړې» ( هغه عبارت چي د اسرائیلو د صدراعظم "بنیامین نتانیاهو " لخوا ابداع سوېده) وښودله، د جګړې څخه چي دا ټوله اقتصادي بې درکه ګټي تر لاسه سوي دي، نو دا خو دهغه ببري له برکته وې چي په افغانستان او عراق کي زموږ د یرغل په واسطه را مینځته سوي .

د سیاسي چارو دغه کارپوهه وایي چي دغه شاني پیښي نباید څوک حیران کړي، هغه لیکي : چي د امریکي د کورنی جګړې په جریان کي د شمال او جنوب نه د راتشیلډ د کورنی مالي ملاتړ، نیژدې وو چي امریکا په دوو جلا هیوادو باندي ووېشي.

ویکټور تورن وایي چي : په ۱۹۱۳ کال کي، د امریکا د قانون جوړلو مجلس، « فېډرال رزرو» جوړ کړ او د فېډرال د مالیاتي عایداتو، د امریکا په تاریخ کي تر ټولو بد جمهور رئیس ته اجازه ورکړه چي دامریکا دي و لومړی نړۍ والي جګړې ته را کښي باسي. دبانکو څخه د امریکا تل پاتي پورونه دهمدې جګړې د لاسته راوړونو څخه وو. په ۱۹۲۹ کال کي د اسهامو د بازار سقوط و راکفلرانو(Rockefellers)، مورګانونو(Morgans) او ونډر بیلټانو (Vanderbilts) ته اجازه ورکړه چي په میلون هاوه ډالر په خپل جیب کي کي، او دا په داسي حال کي وو چي نورعام خلک تر یوې لسیزي پوري د یوه عظیم اقتصادي رکود په منګلو کي لاس وپښي وهلي.

دغه لیکوال ددې خبري یادونه کوي چي د "وینستون چرچیل " سره د امریکا ملګرتوب ددې باعث سو چي جاپانیان د"پیرل هاربر " پر دریایي اډه باندي حمله وکړي . هغه په دوهمه نړۍ واله جګړه کي د امریکې و لاسوهني ته هم اشاره کوي او لیکي : ددغه خرابیو، بمباریو او د جګړې په هغه اوج کي وو چي پر هیروشیما او ناګازاکي باندي د اټم بمونه و اورول سوه، نتیجه دا چي جاپاني وطنپاله ملي ګرایان نابوده او د هغو پرځای یې د نړۍ صنعت ګر او د کارخانو خاوندان را مختته کړه.

**راوروسته کلونه چي د امریکا په اقتصاد کي د بېړنی پرمختګو او تر قی کلونه وه، زموږ د سي آی اې د سازمان شبکو او د هغوی مامورین هم د نړۍ و هر کونج ته ځان و غزاوه او په خپل غیر قانوني کردار سره به یې بر آلا و نورو ته ضرر رساوه : په داسي حال کي چي په کال ۱۹۶۱ کي د امریکا جمهور رئیس آیزنهاور خپله د جمهوري ریاست دوره پای ته رسولي وه، نوموړي د یوې صنعتي - نظامي مجتمع د موجودیت په خاطر د خطر ږغ رادپورته کړ؛ د آیزنهاور ددې ږغ د راپورته کېدو څخه څه کم درې کاله وروسته وو چي جان کینډي د یوې کودتا په ترڅ کي ترور او ووژل سو . جمهور رئیس جانسن هم د اسرائیلو سره د امریکا مرستي لا تر پخوا زیاتي کړې او په خپل دې کردار سره یې د ویتنام په جګړه کي د امریکا ملا ور ماته کړه.**

د ریچارډ نکسن په دوران کي د واترګېټ رسوایي هم د جیمي کارټر و قدرت رسېدلو ته چي د ډېوېډ راکفلر د درې اړخیزه کمیسیون کاندید وو، لاره خلاصه کړه؛ تر ټولو مهمه خو لا دا چي د کارټر د ملي امنیت مشاور «بریژنسکي» چي هغه هم د راکفلر د درې اړخیزه کمیسیون سره تړاو درلود ، روسان یې وغولول او د هغوی پښي یې د افغانستان و جګړې ته راکش او په نتیجه کي یې شوروي اتحاد شړوت و شپارلس کړ.

د امریکن فري پرس د ویکټور تورن په دغه ګزارش کي وایي: چي تاسو یو ځل د ۱۹۸۴ کال حوادثو ته نظر اندازي وکړئ، همدا اوس هماغه « د خپلواکۍ د لارې مبارزین» چي د امریکاپه مالي ملاتړ ، زموږ د سرې جګړې د دښمن سره وجنګېدل ،نن د روسانو لخوا زموږ پرضد د هغوی څخه ملاتړ کیږي.

اوس لیدل کیږي چي څرنګه د قدرت خاوندانو د تاریخ په اوږدو کي د نړۍ د پرمختیاوو او بلواګانو څخه ګټه پورته کړېده . په کال ۱۹۸۹ کي د برلین د دېوال نړېدل ددې باعث سو چي په کال ۱۹۹۳ کي د اروپا د اتحادیې و نوي تشکل ته لاره خلاصه کړل سي؛ د ایران - کانترا په ماجرا کي د امریکا رسوایي ددې باعث سوه چي په متحده


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ايالاتو كي د مخدره موادو د قاچاقو شبكه پټه سي؛ د امريكا د « يو ايس لبرټي» جنګي كښتى باندي د اسرائيلو حمله ددي باعث سوه چي، نيژدي وو دريمه نړى واله جګړه شروع سي.

ددي نه علاوه د نورو اقتصادي پرمختياوو څخه هم كېداى سي د هغه پيښو يادونه و سي چي د اسهامو په بازارو كي تر سره سوي، او هغه د ۱۹۷۳ لسيزي د نفتو د تحريم ، د ۱۹۸۷ د« توري دوشنبي» د ډاټ كام د بحران او د مسكن د كوبيو د چاودېدلو له بابته، را مينځته سوي وي . دا ټول ددي باعث سوه چي هغه چا چي په دې برخو كي سرمايه ګزاري كړېوه د خپلو سرمايو څخه په ميلياردو ډالر د لاسه وركړي؛ خو برعكس د وال سټريټ اصلي چلونكو او بازيګرانو چي د صحنې ترشا يي فعال كردار ادا كاوه ، د هغه څخه په پېخر او ببدركه ګټي جبب ته كړي.

**د ورته پيښو څخه چي په دې ورستيو كي وليدل سوي نور زياد مثالونه هم سته، لكه د« كاترينا» طوپان چي ببوزله خلك يې مجبوره كړل د خپل استوګنځيو څخه ووزي ، خو د ساختماني وسايلو توليدونكو لكه « كې بي آر» درني ګټي تر لاسه كړي؛ همداسي كانه د سيرلانكا په سونامي كي هم وسوه چي د مايانو ساحلي سيمي د تفريحي شركتو لخوا غصب سوي.**

**ويكټور تورن د خپل ګزارش په ورستى برخه كي د نړى د زياتو وقايعو و اصلي سازمان وركونكو ته اشاره كوي ، ليكي:**
**ددې خبري په پام كي نيولو سره چي** د نړى د صحي سازمان (WHO ) ، د نړى وال وجهي صندوق(IMF)، د نړى وال بانک، دخارجي اړيكو شورا(CFR) **او د بيلډر برګ** Bilderberg **د ډلي نخبګان او د رسوخ خاوندان په خپلو پټو لاسو دد غه مصيبتو رهنمايي كوي ، دلته د ايچ . ال منكن (H.L. Mencken)* يو ه خبره ښه مناسبت لري چي، وايي « د ډيپلو ماسي ټول كردار و دي هدف ته متوجه دئ چي خلک د يوه داسي دايمي تهديد څخه په بېره كي وساتل سي ،چي هغه بلكل خيالي او د يوه سره درواغ دي.» متأسفانه لكه څنګه چي موږ د سپټامبر په ۱۱ مه كي شاهدان وو، دغه شاني كثافتونه د زياتېدوپه حال كي دي.**

**راتلونكي بله پيښه به څه وي چي نړى واله ټولنه د ګډوډى او پريشانى سره مخامخ كړي او د نړى د بدلون او تغير د پاره و سيلي برابر كړي ؟**

*** ايچ. ال منكن،** H.L. Mencken **يوجنجالي خبريال او طنز ليكونكئ دئ چي د امريكايي ژوند پر شېوې باندي ډير شديده انتقادونه كوي.**

**http://www.americanfreepress.net/**


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همكارى دعوت مى نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de